# د بنګله دېش سندربڼ

دا د هغه وخت قيصه ده چې اووه کالنه لېله د خپل مور پلار سره په بنګله دېش کښې وسېدله. د لېله کتابونه لوستل ډېر خوښ وۀ. يوه ورځ هغې ته د پلار په مېز باندې يو غټ کتاب ښکاره شۀ، په کوم چې ئې په شين او زرورين رنګ کښې سندربڼ ليکلي وۀ. په کتاب کښې دننه بلها تصويرونه وو کوم چې ټول د يو غټ،ګڼ ځنګل ځناور وو. په ځناورانو کښې هوسۍ وې د کومو چې په سورچکي رنګ وړوکي سپين ټکي وو. شمشتۍ، ماران، شادوګان وو او يو مګرمچهـ هم وۀ. د دې نه علاوه قسما قسم مرغۍ هم وې .

په يوه پاڼه لېله ته يو غټ ازمرے ښکاره شۀ.

بابا، بابا! لېله خپل پلار ته غږ کړۀ او دغه تصوير ئې ورته وښودۀ .

پلار ئې د تصوير په ليدو په خندا شۀ. دې زمري ته بنګال ټائېګر وائي.

وګوره کنه، څومره زبردست ځناور دے. ځکه خو دې ته رائل بنګال ټائېګر هم وائي، يعني شاهي بنګال ټائېګر. او دا ځنګل په کوم کښې چې دوي او دا نور ټول ځناور وسيږي. دې ته سندر بڼ وائي. ستا مور او ما دا کتاب لوستو. زمونږ اراده ده چې تا دې ځنګل ته سېل له بوزو .

خو هغه زمرے؟

د لېله په اواز کښې يره وۀ .

هغه خو د شپې راووځي او ښکار کوي ، خو ګورې سحر وختي او ماښام هم کله لکه ښکار له راووځي. خو خېر مونږ خو به سحر ځو او د ماښام نه اول به واپس کېږو .

لېله خفه شوه. او وئيل يې نو بيا به مونږ زمرے څنګه وينو؟

بابا په خندا شو، وئيل ئې يا خو به ئې ووينې يا نه، خو لږ د سوچ نه پس ئې ووئيل، کېدے شي چې زمرے مونږ ته په نظر راشي .

ماسپښین لیلـه خپلې د ټولـو نـه ښـه ملګرې نیلو تـه فون ووکړه او هغې تـه یـې ووئیل چـې هغـه او د هغې مـور او پـلار سـندربن تـه د تلـو پروګـرام جـوړوي. او دا ئـې هـم ووئیـل چـې څـه پتـه هلتـه دوي ته بنګال ټائېګر هم په نظر راشي .

نیلـو ووئیـل ، مـونږ پـه بنګـالې کښـې زمـري تـه باګـهـ وایـو. خـو لیلـه چـې کلـه مـونږ سـندربن تـه ورسـو نـو بیـا د باګـهـ نامـه چـرې هـم نـهٔ وایـو ځکـه چـې کـه تـا د هغـه نامـه ووې نـو هغـه بـه سمدسـتې راشـي او تـا بـه ووینـې. او خبـر یـې باګـهـ ډیـر ښـه لامبـوزن دے، هغـه ځلـور میلـه لامبـو نـه پـس هـم نه ستړے کیږي .

پـه دې اوریـدو لیلـه وویریـده. د فـون کیښـودو سـره ئـې د مـور او پـلار خـوا لـه منـډه کـړه. چـا چـې سندربن ته د تلو خبرې کولې .

مـور، بابـا، هغـې چغـه کـړه. تاسـو تـه پتـه ده نیلـو وې چـې پـه ځنګـل کښـې یـا پـه هغـه لاره مـونږ تـه باګهـ نامه نه دي اخستل پکار کنه هغه به سمدستي هلته راشي او مونږ به وخوري .

دا اوریـدف وو چـې پـلار ئـې د خنـدا نـه پـه شـا واوریـدهٔ. خـو مـور ئـې پـه خنـدا شـوه او ورسـره یـې مینـه وکـړو او ورتـه ئـې ووئیـل چـې لـورې نیلـو درتـه پـوره قیصـه کـول هېـر شـول. هغـې درتـه دا ونه وئیل شول چې که ته ورته د باګهـ په ځائے ماما ووے نو هغه به درته بیا څه نهٔ وائي.

عافیـه تـا تـه پتـه د چـې دا خبـره بېخـې غلـط ده. پـلار ئـې مـور تـه ووئیـل. او دا واوره لیلـه! چـې کـه یـوه ښـکلې غونـدې غـوا وړې زمـري تـه مـو مـو مامـا وائـي نـو هـم بـه زمـرے خامخـا هغـه وخـوري. دا ټولې قیصې چې ته اورې دا خلقو هسې د ټوقو دپاره د ځان نه وئیلې دي .

تـه کـهٔ چـرې د څـه نـه ویرېږې نـو د هغـې پـه بـاره کښـې پـوره پـوره معلومـات کـوه.نـو دغسـې بـه تـهٔ د خپل ځان بچ کولو چل هم زده کړې او ویره به دې هم لاړه شي.

پـه بنګـال کښـې ژمـے ډېـر یـخ خـو نـه وي خـو خوشـګواره وي. ځکـه نـو د اتـوار پـه ورځ چـې دوي د سـندربن پـه سـېل ووتـل نـو موسـم ښـکلے وو. د نمـر پلوشـو پـه اسـمان کښـې سـور او زرورېـن رنـګ خـور کـړے وهٔ. سـندربن یـو ګڼ او غـټ ځنګـل دے، پـه کـوم کښـې چـې د ونـو زېلـې د خلیج بنګال د نمکینو اوبو د سیند په غاړه او په ساحل خورې دي .

مـور ئـې د ځنګـل طـرف تـه اشـاره وکـړه او لیلـه تـه ئـې ووې. دې ونـې تـه مېـن ګرونـو وائـي، د ګبینه مچۍ دې کښې ګبین جوړوي. هم هغه شات کوم چې ته په کور کښې په شوق خورې .

لیلـه ډېـر پـه شـوق ځنګـل تـه کتـل او د هغـي ځنـاورانو پـه لټـون وهٔ د کومـو چـې ئـې پـه کتـاب کښـې تصـویرونه لیـدلي وو. تـر وسـه پـورې ورتـه تشـې مرغـۍ پـه نظـر راغلـې وې. ناڅـاپي ورتـه نـور هـم څـهٔ ښـکاره شـول، لېلـه غـږ وکـړهٔ، مـورې، بابـا، وګـورئ شـادو خپـل ماشـوم پـه شـا کښـېنولے او روانـه ده. مـور او پـلار ئـې پـه خپلـو دوربینونـو بانـدې هغـې طـرف تـه وکتـل. چرتـه چـې لیلـه اشـاره کړې وه.

ښـکاري چـې د شـادو بچـے ډېـر پـه خونـد کښـې دے بیخـي لکـه د انسـان د بچـو. مـور ئـې پـه خنـدا ووئیـل. پـلار ئـې خپـل دوربـین لېلـه لـه ورکـړهٔ او وئـې وئیـل چـې دې شـادوګانو تـه ریسـس وائـي، د مـېن ګرونـو پـه ځنګلونـو کښـې دا ډېـر وي. وس لـږ خپـل ښـي طـرف تـه وګـوره، هلتـه پـه دې اوبـو کښې د لرګي دا ګُنده څنګه ده؟

لیلـه پـه دوربین کښـې وکتـل او وئـې وئیـل چـي هـاؤ ومـې لیـده. دا لـرګے نـهٔ بلکـې مګرمچـه دے، دا ئې ووئیل او دوربین ئې پلار ته وړاندې کړهٔ .

هاو ته ټهیک وے، دغه مګرمچه دے او خپلې ناشتې له د مهیانو را نیولو تیارے کوي .

لېله وئیل،عاجزان مهیان .

ټول څهٔ نه څه خوري، مهي هم ځان له ښکار کوي .

مهیان څهٔ خوري؟ لېله پښتنه وکړه .

هغـوي چینجـي مینجـي یـا د خپـل ځـان نـه واړه مهیـان او ماشـي وغېـره هـم خـوري. د دې نـه عـلاوه د مېنګرونـو پـه اوبـو کښـې غورځېدلي وچـې پـاني هم خـوري کـوم چـې د دوي دپـاره فائـده منـده غـذا ده .

پـه دې کښـې د ماسپښـین د ډوډۍ وخـت شـهٔ نـو یـو مـانګي ډوډۍ راوړه او پـه مسـکا ئـې ووئیـل چـې زمونږ د چنګړي مهي ښوروا خو وڅکئ.

دربـواړه مسـافر ښـهٔ وږي وو. پـلار یـې مهیـان پـه خپـل تـالي کښـې واچـول او مـانګي تـه ئـې ووې، آپ نـاکے انـوک دهننـا بـاد (ستا ډېـره ډېـره مهربـاني) هغـهٔ ووئیـل مـونږ د نمـر راختـو نـه وړانـدې جهینګـے راونیسو او بیا ئې وروستو پوخ کړو.

مور ئې هم د مهیانو ښوروا وڅکله او په خندا ئې ووئیل چې ما دومره خوندوره د جهینګا ښوروا د دې نه وړاندې نه دهٔ خوړلې. ماڼګي ووئیل مننه بې بې او خوشحاله خوشحاله روان شهٔ .

په ځنګل کښې ځاے په ځاے سیند بهیدهٔ.په کومه کشتۍ کښې چې لیلـه او د هغې مور او پلار وو هغه هم د ځنګل په لورې روانه شوه.

لیله د پلار په دوربین کښې د سمندر په غاړه د ځناورو په لټون وه. هغې ډېر شے ځناور لیدل غوښته خو د ټولو نه زیات د بنګال ټائیګر په لټون وهٔ .

په دې کښې پلار اواز وکړهٔ، عافیه او لیله وګورئ، هغه د سیند بلې غاړې ته اشاره کوله. مور او لور خپل دوربینونه هغې طرف ته کړه نو دوي ته بلها هوسۍ په نظر راغلې. د کومو رنګ چې سوربخن خړ وهٔ او په هغې واړهٔ واړهٔ سپین ټکي وهٔ، په هغې کښې یو څو هوسو د سیند نه اوبهٔ څښلې او نورې په ګیا خوړو کښې مشغولې وې .

هاو، د یو هوسۍ غټې ښکرې وې، هغه په ژۍ ولاړ وه او کشتۍ ته ئې په غور کتل، داسې ښکارېدله چې دا غټه هوسۍ د دې ټولو ساتندویه وه .

مور یې ورته ویل لیله وګوره،وګوره ،هغه د هوسو ګله درته ښکاري، دوي ته چیتل وائي، څومره ښکلې دي کنه.

لیله د هوسو رمې ته په خندا وکتل او ویل ئې داسې ښکاري لکه په دوي چې د ستورو باران شوے وي .

مور ئې په خندا ووئیل ته ټهیک وائې،

او د نمر پلوشو دغه سپین داغونه نور هم ځلنده کړي وو، په دې کښې ماڼګي د ماسپښین چاے راوړهٔ.

دا د مسالې او د ګوړې چاے دے، هغه ووئیل. د دې خبرې په اورېدو پلار د چایو پیالۍ ته لاس کړه او وئیل ئې هلکه دا چاے خو زما د زړهٔ سر دے. مور ئې بلې پیالۍ ته لاس کړهٔ. د دې نه پس ماڼګي لیله ته غږ کړهٔ. بې بې ته چاے څښې او کهٔ پۍ؟ لیله وکتل چې په پتنوس کښې په یوه پیالۍ کښې پۍ دي او په بله کښې چاے. هغې پیو ته لاس کړهٔ او لږه وشرمېده او ویل ئې دهنوباد.

چاے څښلو نه پس درېواړه بيا د ځناورو په لټون شول. يو دوه ګېنټې پس ماښګي دوي ته ووئيل چې وس به واپسي وکړو ځکه چې ماښام کېدو واله دے او د زمرو د راويښدلو وخت شوے دے. کشتۍ به وس د ګښو ونو په مېنځ کښې په نرۍ لاره تېرېږي. نو په دې کښې ډېره خطره ده.

کشتۍ ئې راتلو کړه.او د کهلنا ښار په لوري روان شول د کوم ځاے نه چې دوي راغلي وو .

په دې کښې ئې مور ته په دوربين کښې په اوبو کښې څه ښکاره شول زر ئې ووئيل چې دا څه په اوبو کښې بهيږي؟ داسې ښکاري لکه د څۀ ځناور مخ چې وي. دا ئې ووئيل او دوربين ئې پلار له ورکړۀ .

پلار ئې هغې څيز ته ډېر په غور وکتل، په دې کښې ماښکے په منده راغلو او وئيل ئې دغه وګورئ، زمرے په اوبو کښې لامبو وهي .

په اوبو کښې لامبوزن څيز د زمري مخ وو. د زمري باقي وجود په اوبو کښې د سترګو نه پټ وو. د لامبو په دوران کښې چې کله د هغه مخښکينې پښې د اوبو سر له راغلې نو کله کله به په نظر راغلې. بنګال ټائيګر ډېر په تېزۍ لامبو وهله. بې شکه د هغه شاهانه طبعيت څه داسې ژوندے ليدلے وۀ چې د هغې ښکار ته ئې ځان جوړ کړے وۀ .

د زمري ليدو نه پس د لېلې سود وشۀ. چې کله هغه د سترګو نه پناه شۀ نو هغې دوربين شاته پاتې ځنګل ته راتاو کړو. څۀ وخت پس هغې ووئيل سندربنه !

تۀ څومره ښکلے ځنګل يې او د وئيلو سره ئې خپل سر د مور په غيږه کښې کيښودلو او پرېوته ځکه چې ډېره ستړې وه .

مور د هغې سر وټپوۀ او وئې وئيل! چې لېلې تا خو د سندربڼ ترجمه وکړه، خبر يې چې د سندربن څۀ مطلب دے؟ ښائسته ځنګل.

**ليک: آمنه اظفر**

**ژباړه : ډاکټر اباسين يوسفزے**